# حُسنِ مطلق يا حقيقي حُسن، دَرحمان بابا او مير تقي مير په نظر کښې

# The Concept of Real Beauty Reflected in the Poetry of Raḥmān Bābā and Mīr Taqī Mīr

ډاکټرنصرالله خان ★

ډاکټرنورمحمد دانش بيټنې ★★

## Abstract

The concept of beauty is debated greatly in literary studies. Some view it from the natural perspective, while others look it from the perspective of sufism. Natural beauty is a source of inspiration and usual touch, provoking a sense of loveliness, praise and admiration. Many writers/poets adore the concept of natural/divine beauty in their poetic creations. However, very few writers go for the divine concept of beauty. Raḥmān Bābā, the Pashto mystic poet, is one of them. His life, personality, and literary works reflect mysticism and sufism. Similarly, Mīr Taqī Mīr, a poet of Urdu, also has great inclination for the mystic concept of beauty in his poetry. This article will examine to highlight/compare the conceptual articulation, reflecting sufi/mystic perspective of both the poets.

**Keywords:** *Raḥmān Bābā; Mīr Taqī Mīr;Pashto Literature; Poetry.*

دَ رحمان بابا شخصيت او دَ هغهٔ دَ ژوند حالاتو يؤ افسانوي رنګ خپل کړے دے۔ چا ورته دَ بارې په غاړه دَ يوې ونې لاندې ناست ربابي وئيلے دے۔ چاورته په غرونو سر دَ الله تعالیٰ په مينه کښې ډوب لېونے وئيلے دے، چاورته په مجنون نومې هلک مېئن عاشق وئيلے دے او داسې نورې ډېرې خبرې چې دَ هغه په شخصيت او ژوند پورې تړلے شوي دي. ولې دا ټولې هاغه خبرې دي چې بنائسته افسانې ئې ګڼلے شو او څهٔ کوټلے ثبوت يې نهٔ لرو- څنګه چې دَ رحمان بابا دَ ژوند حالات لاسم په ډاګه نهٔ دي، دغه شان دَ هغهٔ دَ تعليم په حقله هم محققين يا څېړنکاران خاموشه دي ـ څکه چې دَ

---

★ اسسټنټ پروفېسرعبدالولي خان پوهنتون مردان

★★ اسسټنټ پروفېسر پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون

رحمان بابا په خپل دیوان کښې څه داخلي شهادت نشته او نۀ دَ هغۀ چا هم عصرد هغۀ دَ تعلیم په حقله څه وئیلي دي- محمدهوتک دَ رحمان بابا دَ تعلیم په حقله لیکي چې

" او لۀ هغه ملا محمد یوسف یوسفزي څخه ئې لوست وکا، او لۀ هغۀ ئې فقه او تصوف زده کړل او بیا ولاړ کوهاټ ته هلته ئې هم سبقونه ولوستل، او ښۀ عالم سو.په ځوانۍ ئې دنیا پرېښوله او اکثر به په غروګرزیدۍ، او کله به لاړ دَ هندوستان په خوا،او دَ خدائے عبادت به ئې کا، دَ دنیا په کاروبار به نۀ مشغول کېدۍ، عبدالرحمان بابا یؤ عالم رباني او عابد سړےؤ۔" ۱

دَ پټې خزانې نه علاوه هیڅاهم دَ رحمان بابا دَ تعلیم په حقله څه نۀ دي وئیلي.ځکه مونږ دَ محمدهوتک په پټه خزانه اعتبار ساتو، چې رحمان بابا دَ ملامحمد یوسف یوسفزي نه دَ فقې او تصوف ذده کړه کړې وه، او دَ علم حاصلولو په سلسله کښې ترهندوستان پورے تلے ؤ.

غرض دا چې دَ رحمان بابا دَ رسمي زده کړې په حقله کۀ نور کوټلي شواهد نۀ لرو،نو دا ښېلګې ئې هم دَ علمیت لۀ رازه پرده راښکلے شي۔

(۱) دَ هغه په کلام کښې دَ تصوف غُندې پېچلې موضوع چېړلے شوې تر سترګو کېږي۔

(۲) کلام ئې په ګڼ شمېر علمي ټکو او اصطلاحاتو سمبال دے۔

(۳) ټوله وېنا ئې دَ قران او حدیث په پلوشو روښانه ده۔

لکه چې وائي.

دا چې زۀ و تاته وایم کۀ ئې خدائے کا
په آیات و په حدیث کښې بـــه څرګند وي ۲

(۴) دَ عربۍ او فارسۍ ګڼ شمېر تورې ئې په کلام کښې پکار کړي دي۔

ځکه نو په ډاډ وئیلے شو، چې نومورے دَ علم په لوړه پایه ولاړ او په مروجه

علوموښهٔ پوهه ؤ۔

میرتقي میر دَ اردو ژبې او ادب دَ کلاسیکي دور نمائنده شاعر دے۔ کوم مقام چې په پښتوژبې او ادب کښې رحمان بابا ته حاصل دے هغه مقام په اردو ادب کښې میرتقي میرته حاصل دے، خو څنګه چې دَ رحمان بابا دَ ژوندحالات په تیارو کښې پټ پراتهٔ دي. دغه شان دَ میر دَ ژوندحالات هم سم په ډاګه نهٔ دي ولې بیاهم محققینو کوشش کړے دے او دَ میر دَ ژوند یوه خاکه ئې تیاره کړې ده چې څه په دا ډول ده.

دَ میرتقي میرد پلار نوم محمدعلي متقي یا عبدالله ؤ او په علي متقي مشهور ؤ چې دا لقب ورته خپل پیر ورکړے ؤ. میرتقي میر دَ خپل تعلیم او روزنې په حقله څه واضحه نهٔ دي لیکلي خو داسې واقعات شته چې دَ هغه دَ تعلیم او روزنې پته ترې لګېدے شي- دَ میرپلار یؤ صوفي بزرګ، حقیقي عاشق، درویش او فقیر ؤ- دَ دنیانه وېزاره او په رښتیامتقي ؤ- میرهم دَ دغه قسمه عظیمې هستۍ دَ سیوري لاندې ژوند کولو- دَ میرپلار به همېشه دَ هغه دَ پاره لاس په دعا ؤ او هغهٔ ته به ئې تلقین کولو، لکه چې میرپخپله دغه حالات بیانوي-

"وہ روز و شب خدا کی یاد میں رہتے تھے. خدا نے کبھی انہیں شرمندہ نہیں کیا. کبھی وج میں آتے تو فرماتے "بیٹا عشق کرو، عشق ہی اس کارخانے میں متصرف ہے. اگر عشق نہ ہوتا تو نظمِ کل قائم نہیں رہ سکتا تھا. بے عشق زندگی وبال ہے. عشق میں جی کی بازی لگا دینا کمال ہے. عشق بناتا ہے. عشق ہی کندن کر دیتا ہے. دنیا میں جو کچھ ہے عشق کا ظہور ہے-" ۳

غرض دا چې رحمان بابا او میر په خپل خپل ادب کښې ځانګړے حېثیت لري دواړه نوموړي دَ خپلې پوهې او زیرکۍ لهٔ وجې دَ صوفیانو په ټولګي کښې شمېرلے کېږي۔

مطلق حُسن یا حقیقي حُسن دَ رحمان بابا او میر په نظر کښې:

دَ تمام حسن ماخذ، مرکز او چینه دَ الله تعالٰی ذات دے، چې په اصطلاح کښې ورته مطلق حُسن یا حقیقي حُسن وئیلے شي۔ حُسن لهٔ دغه مطلق حُسن

نه خوربړي دَ کائنات او په کائنات کښې دَ موجود هرڅيز حُسن دَ هغهٔ کل حُسن برخي دي چې دَ کل حُسن په موجوديت گواهي ورکوي- دَ څيز دَ ظاهر جوړښت او معنوي ښکلاگانو سرچينه هم دغه مطلق حُسن دے- رحمان بابا او مير هم دَ صوفيانو په ټولگي کښې شمېرلے کېږي، چې دَ مطلق حُسن په حقله ئې په خپل خپل کلام کښې ډېرشعرونه وئيلي دي- دواړو شاعران مطلق حُسن دَ تعريف او توصيف په لړکښې را جوتول غواړي، چې دا اقسم ښائست چې دَ مطلق حُسن يعنې حقيقي محبوب دے دَ يؤ انسان هم نشته،حالانکې انسان لره دغه مطلق حُسن ډېر په تحقيق سره جوړ کړے دے. دَ چمن دَ گلونو ښائست هم دَ دې ښائست لۀ وجې دے دَ دنيا دَ ټول حُسن منبع دَ دغه حُسن نه ده چې دَ ټولو نه ښائسته دے- لکه چې رحمان بابا وائي-

دغه هسې رنگ ښائست لکه چې ستا دے
نشته دا رنگه ښائست دَ هيڅ انسان
لۀ هوسه دې هرگل کړه خندا شوه
چې ئې وليد ستا دَ حُسن گلستان ۴

مير وائي:

خوبی اس خوبی سی بشر میں کہاں
خوب ترہے پری وحور سے بھی وہ ۵
شاید متاعِ حسن کھلی ہے کسوکی آج
ہنگامہ حشر کاساہے بازار کی طرف۶

دَ حُسن مطلق لټون او دَ دې حُسن سره دَ عشق لۀ رويه په صوفي باندې مختلف حالتونه راځي- چې کله ئې دَ اظهار اراده وکړي نو فن ترې ساز شي- رحمان بابا او مير هم دَ صوفي په حېثيت دَمطلق حُسن په لټون دي او يؤ زبردست عشق لري خو چې دَ دې عشق سوزوگداز ئې په وېنا مجبور کړي، نو څه داسې نغمې ترې جوړې شي.

رحمان باباوائي

هغۀيار به زۀ وکومه خوا ته غوارم
چې ئې هيچرې منزل ومکان نشته ۷
تمامې عمر داستا په طلب ورک يم
لټوم دې په هرښهر په بيابان۸

ميروائي:

ياں نام يارکس کا ورد زبان نہ پایا
پر مطلّقاً کہیں ہم اس کانشان نہ پایا
پایانہ یوں کہ کریے اسکیطرف اشارت
یوں تو جہاں میں ہم نے اسکو کہاں نہ پایا۹

دَ ميرپه حقله ډاکټر عبادت بريلوي ليکي چې:

"چنانچہ ان کے نظریں ہر شے میں اسی حسن کو دیکھتی ہیں اور اسی نور کو تلاش کرتی ہیں۔ انہیں خورشید کی حسن میں بھی اس ہی کا ذرہ نظر آتا ہے۔ ہر نور کو وہ اسی حسن سے مستعار سمجھتے ہیں۔

تھا مستعار حسن سے اس کے جو نور تھا
خورشید میں بھی اس ہی کا ذرہ ظہور تھا۔ " ۱۰

رحمان بابا او ميرکۀ يۀ طرفته دَ دغه مطلق حُسن په لټون کښې دي، ولې بل طرفته هغوي دا جوتوي چې دغه مطلق حُسن خوهرچرته دے.

رحمان بابا وائي

هسې نه چې واحدي ئې ده لۀ عجزه
په واحد وجود بسيار دے رب زما
څۀ حاجت دے چې و بل خوا ته ئې غوارم
په خپل کورکښې همکنار دے رب زما ۱۱

ميروائي:

یہ دل خون ہووے برجانہ تھا، وگرنہ

وہ کون سی جگہ تھی اسی کو جہاں نہ پایا ۱۲

خو دَ دغه مطلق حُسن بیاموندلو دَ پاره دَ زړۀ صفائي لازمي وي- چې دَ چا زړۀ بې زنګه ائینه وي هم هغۀ دَ دغه ذات تجلي حاصلولے شي- زړۀ دَ هرقسمه خرابو، شرکونو او دَ شېطاني وسوسو نه پاک پکار وي، ګنې بیا دَ دغه ذات لېدل نۀ شي حاصلېدے- لکه چې رحمان بابا وائي:

چې داهسې بزرګ مېلمه وکورته بیائې
اول غولے پاکیزه کړه لۀ خاشاکه ۱۳

او میر وائي چې:

دل صاف ہوتو جلوہ گر یار کیوں نہ ہو
ائینہ ہو تو قابل دیدار کیوں نہ ہو۱۴

دواړو شاعرانو کۀ هرڅو مجازي حُسن هم چېړلے دے، ولې بیا هم صوفیان وو او دَ حقیقي حُسن او عشق په مېئومست وو.په دې وجه ئې معشوق هم دَ مطلق حُسن خاوند دے چې دَ دواړو مینه ورسره بې مثاله ده او چې کله ئې دغه حقیقي حُسن لېدلے دے نو بیائې دَ جهان هیڅ څېز ته نۀ دي کتلي. لکه چې رحمان بابا وائي:

چې مې ستا وښکلي مخ وته نظرشۀ
بل یو مخ ته نۀ دي بیا کتلي ما ۱۵

او میروائي چې:

موند دکھنا چشم کا ہستی میں عین دیدہے
کچھ نہیں آتا نظرجب انکھ- کھولے ہے حباب ۱۶

رحما ن بابا او میر د حُسن و عشق شاعران وو په حُسن او عشق ئې سرونه قربانول ځکه چې

" حُسن و عشق رعب لري حکم لري، یو داسې طاقت لري

چې عاشق به هغهٔ څهٔ کوي چې څهٔ حُسن وائي څهٔ چې عشق غواړي دَ اوسپنې څپلۍ به سولۍ پیریانو دیوانو سره به جنګونه کوي خو دَ خپل محبوب خواهش به پوره کوي. حُسن او عشق ته نهٔ مهٔ نشته. ډیل نشته او کهٔ وي نو حُسن او عشق نشته. حُسن او عشق سره ژړا ده فریاد دے تکلیفونه او کړان دے خو بیا هم په خلقو ګران دے او هر څوک ئې غواړي. موسیقي هم دَ دې لهٔ برکته ده او دَ شاعرۍ خو روح هم دغه دے." ۱۷

رحمان بابا او میر دَ خپل محبوب دَ تصویر سازولو دَ پاره دَ خپل تخیل، تفکر او الفاظونه کاراخستے دے او دَ خپل محبوب تعریف او توصیف ئې په رنګ رنګ طریقه کړے دے، لکه چې لاندینې شعرونه ئې دَ کتو دي په کوم کښې چې ئې دَ مطلق حُسن تعریف کړےدے. رحمان بابا وائي چې:

دَ ښائست صفت ئې څوکووم حېران یم
په هیڅ رنګ ئې موندے نهٔ شي انتها
دَ صورت لهٔ عېبه هسې پاکیزه ده
لکه ذات دَ وېښتو نشته دے په ها ۱۸

میر وائي:

دیکھیں جدھر وہ رشک پری پیش چشم ہے
حیران رہ گئے ہیں یہ اسرار دیکھ کر۱۹

ځکه چې دَ دواړو محبوب دومره ښکلے دے چې هغوي ئې دَ تعریف کولو توان نهٔ لري او رحمان بابا خو وائي کهٔ چرې زهٔ ګویا نهٔ وے نو څنګه به ښهٔ وے ځکه چې:

زهٔ رحمان دَ یار ثناء کولے نهٔ شم
کاشکې مهٔ وے په جهان کښې څهٔ ګویا زهٔ ۲۰

او میرخو دَ محبوب دَ وېښتو دَ صفت نه هم لاچاره دے او وائي چې:

نہ ہووے وصف ان بالوں کا مجھ سے
اگرہر مو مرے تن پر زبان ہو.۲۱

دا یؤ حقیقت دے چې کۀ هرڅومره دَ دغه حُسن دَ صفت او تعریف دَ پاره تشبیهات، استعارات او دَ کلام ټولې فني ښېګړې استعمال کړے شي، ولې بیا هم دَ حُسن نه پرده نشي وچتېدلے ځکه چې حُسن یؤپراخه او لاادراکه حقیقت دے، چې یؤ افاقي حېثیت لري او هیڅ قسم زوال نۀ لري-

رحمان بابا او میر دَ تصوف دَ دواړو نظریئو مرستیال وو. دَ دغه مطلق حُسن په حقله ئې ډېر شعرونه لیکلي دي او خپله خپله نظریه ئې دَ دغه حُسن په حقله ښکاره کړې ده- خو دَ دواړو مقصد دَ حقیقي حُسن تعریف او توصیف دے لکه چې رحمان بابا وائي:

دا زما دَ یار جلوه ده چې لیدۀ شي
لکه نمر په صومع و سومنات ۲۲
معرفت دَ خدائے څرګند دے په هرځۀ کښې
سترګې وخوره چې څوک هومره نظیرنۀ کا ۲۳
رحمان حُسن دَ یار وینم په پرده کښې
نۀ پټېږي نور دَ شمعې په فانوس ۲۴

میروائي:

اسکے فروغ حسن سے جھمکے ہے سب میں نور
شمع حرم ہو یا کہ دیا سومنات کا ۲۵
بالذات ہے جہاں میں وہ موجود ہرجگہ
یہ دید چشم دل کے کھلے عین ذات کا ۲۶
جلوہ ہے اسی کا سب گلشن میں زمانے کے
گل پھول کو ہے ان نے پردا سابنارکھا ۲۷

دواړو شاعرانو لکه دَ نورو صوفیانو شاعرانو په حقیقي حُسن او عشق کښې

دَ مجازي حُسن دَ اشارو، کنایو، تشبیهاتو، استعارو او تلمیحاتو نه ښۀ کار اخستے دے او دَ خپل حقیقي محبوب دَ حُسن ستائنه ئې کړې ده، لکه چې رحمان بابا دَ محبوب دَ خال په حقله وائي

ما چې خال دا ستا دَ وروځو په میان ولید
نۀ بل هسې رنګ امام شته نۀ محراب ۲۸

میروائي:

ہے ان بھووں میں خال کا نقطہ دلیل فہم
کی ہے سمجھ کے بیت کسو نے یہ انتخاب ۲۹

رحمان بابا او میرد خپل محبوب دَ حُسن دومره طلبګاردي، چې خپل سر ورکوي خو دَ محبوب حُسن حاصلول غواړي- ولې دومره په اسانه هم خپل سر نۀ ورکوي، لکه چې رحمان بابا وائي:

څو ونۀ وینم ستاسترګې کۀ ئې خدائے کا
عزرائیل لره به همره ځان ورنۀ کړم ۳۰
په رحمان دَ هغولبو مے حرام دي
څو دَ خپلو وینوجام تاوان ورنۀ کړم ۳۱

میروائي:

گرچہ وہ گوہر تر ہاتھ نہیں لگتا لیک
دم میں دم جب تئیں ہے اس کے طلبگار رہو
سارے بازارِجہاں کا ہے یہی مول اے میر
جان کو بیچ کے بھی دل کے خریدار رہو ۳۲

دَ دواړو شاعرانو په لاس کښې لویه وسله دَ هغوي دَ اثر نه ډکه ژبه ده کومه چې دَ جادو اثر لري کۀ مصور دَ رنګونو شاعري کوي نو دَ شاعر رنګونه دَ ژبې رنګین الفاظ وي. چې نالیدلي څیزونو ته دَ خپل لوړ قوت متخیله په زور دَ سحر سازۍ الفاظ ورکړي او هغۀ نالیدلې څیزونه بیا وجودي ښکاري.

شاعر دَ آسمانونو نالیدلي ځیزونه زمکې ته راکوز کړي چې بیا لیدلې کتلي ځیزونه ښکاري. دغه رنګ دواړو شاعرانو دَ خپل تخیل په زور نا ممکن ځیزونه ممکن کړي دي پخوانۍ خبرې ئې په نوي رنګ کښې پېش کړي دي. ځکه خو دَ شاعرۍ په حقله نامتو لیکوال سید رسول رسا لیکي چې:

" دَ شاعر کار دَ بنیادمو په لطیفه او جادو نما طریقه تګل دي او دَ خلقو په خیالي جنتونو غولول دي او دا اثر په شعر کښې شاعرانه ژبه پېدا کوي. دَ شاعرانه ژبې الفاظ په ظاهر دَ ژبې عام فهم رائج الفاظ وي. خو شاعر دَ دې عام فهمه الفاظو داسې خوندناک ادبي استعمال کوي چې دَ شعر نه جادو جوړ شي.... دا دَ شاعر حصه ده. دا هغهٔ ته الله پاک پېدائشي عطیه ورکړې ده. یعنې دا ملکه عطائي ده دَ کسب یا دَ تحصیل نه نهٔ ده. البته کسب او تحصیل په دې عطایي ملکه کښې ښائست او خوند زیاتېږي خو کسب دا خوند پېدا کولے نهٔ شي." ۳۳

غرض دا چې رحمان بابا او میر دَ مطلق حُسن یا دَ حقیقي حُسن سرچینه الله تعالیٰ ګڼي، چې دَ کائنات ټول حُسن دَ دغه مطلق حُسن نه خورېږي او په دغه ذات دومره مئین دي

لکه چې رحمان بابا وائي:

خدائے لره به ورشم په سودا دَ یار لهٔ مخ
بل مقصد مې نشته په کعبه په بتخانه ۳۴

او یا دا شعر چې:

هرزیارت لره چې ځم مراد مې تهٔ ئې
زهٔ زائر دَ بتخانې دَ حرم نهٔ یم ۳۵

او میر وائي:

کس کو کہتے ہیں نہیں میں جانتا اسلام و کفر

دیر ہو یا کعبہ ' مطلب مجھ کو تیرے در سے ہے ۳٦

ځکه چې مطلق حُسن هر چرته د ے، زوال نۀ لري او دواړه شاعران دَ دغه لافاني حُسن جلوه دَ کائنات په هر څيز کښې ويني ـ لکه چې رحمان بابا وائي:

پورته بدر راځرګند شو ښکته نمر
ښکته پورته واړه مخ د ے دَ دلبر ۳٧

او ميروائي:

دیا دکھائی مجھے تو اسی کا جلوہ میر
پڑی جہان میں جاکر نظر جہاں میری ۳۸

غرض دا چې رحمان بابا او مير دَ ازل نه حُسن پرست پېدا شوي وو. دَ دواړو په خټه کښې دَ حُسن سره مينه دَ ازل نه اخښلے شوې وه. دواړه چې به دَ کائنات دَ هر څيز نه متاثره کېدل نو مينه به ئې ورسره کوله. هم دغه وجه ده چې په دواړو کښې دَ عشق جذبه ډېره په شدت سره موجوده وه چې دغه شدت له ئې دَ شعر رنګ ورکړے د ے او داسې په زړۀ پورې دَ اثر نه ډک شعرونه ئې رقم کړي دي چې په زړونو او دماغو به تل تر تله اثر کوي.

دَ دې بحث نه دا نتيجه اخذ کولے شو چې:

١ ـ دواړه دَ حقيقي حُسن لټون کوي ـ
٢ ـ دواړه صوفيان دَ جهان هر څيز او يا دَ هر څيز ښکلا دَ هغۀ حقيقي حُسن برخه ګڼي ـ
٣ ـ دواړه شاعران چې هره خوا ګوري دَ حقيقي خالق نخښې ورته ښکاري ـ
۴ ـ دواړو ته هر اړخ دَ حق وجود او شهود ننداره کېږي او دَ حقيقي حُسن په سپينو پلوشو کښې ځان رانغاړي ـ

## حوالې او اخذ لیکونه

---


1. محمد هوتک، پټه خزانه، قندهار، دوېم چاپ ۱۹۲۰ء مخ ۹۴
2. صلاح الدین، دیوان رحمان بابا، نوراني کتب خانه قصه خواني پشاور شهرو ۱۹۹۳، مخ ۱۵۰
3. فاروقي نثار احمد، ډاکټر، ذکرمیر، میرکی آپ بیتي(اردوترجمه) مجلس ترقي ادب لاهورجون ۱۹۹۴ء - مخ ۱۷۷. ۱۷۸
4. پروفیسر طهٰ خان، کلیات رحمان بابا. پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ، ۲۰۰۶، مخ ۲۷۷، ۲۷۸
5. فائق کلب علي خان ، کلیات میر، (مرتبه)دیوان پنجم و ششم جلدچهارم، مجلس ترقي ادب لاهور، چاپ دوم، جون ۲۰۰۲ ء ، مخ ۲۶۲
6. هم دغه اثر ، مخ ۸۳
7. سیدرسول رسا ، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، خیبربازار ، س ن ، مخ ۸۶
8. هم دغه اثر مخ ۱۹۵
9. ډاکټر نثار احمد فاروقي، میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر ، ،مجلس ترقي ادب لاهور، چاپ اول، جون ۱۹۹۲ء
10. عبادت بریلوي، میرتقي میر، شعبه تاریخ ادبیات، اداره ادب وتنقید ، لاهور، مخ ۱۲۷
11. پروفیسر طهٰ خان، کلیات رحمان بابا. پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ، ۲۰۰۶، مخ ۱۳، ۱۴
12. ډاکټر نثار احمد فاروقي ، میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر ، ،مجلس ترقي ادب لاهور، چاپ اول، جون ۱۹۹۲ء مخ، ۱۶۸
13. رسا سیدرسول ، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، خیبربازار ، س ن مخ ۶۳
14. ډاکټر نثار احمد فاروقي، میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر ، ،مجلس ترقي ادب لاهور، چاپ اول، جون ۱۹۹۲ء مخ ۳۸۰
15. رسا سیدرسول ، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، خیبربازار ، س ن ،مخ ۲۲

16. ډاکټر نثار احمد فاروقي ،میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر، ،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ اول،جون ۱۹۹۲ء مخ ۲۱۳
17. خواجه محمد سائل ، عبدالحمیدبابا، پبلشنگ هاوس، خېبر بازار، پېښور، ۱۹۸۵ء مخ ۱۲۲
18. سیدرسول رسا، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،خېبربازار ، س ن ،مخ ۱۷
19. ډاکټر نثار احمد فاروقي ،میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر ،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ اول،جون ۱۹۹۲ء مخ ۲۴۵
20. هم دغه اثر مخ ۱۵۴
21. کلب علي خان فائق، کلیات میر، (مرتبه)دیوان دوم جلددوم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جنوري ۱۹۹۱ء ، مخ ۲۴۲
22. سیدرسول رسا، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،خېبربازار ، س ن ،مخ، ۲۵
23. هم دغه اثر مخ ۱۶۷
24. هم دغه اثر مخ ۵۵
25. ډاکټر نثار احمد فاروقي میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر ،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ اول،جون ۱۹۹۲ء مخ 1
26. کلب علي خان فائق ،کلیات میر، (مرتبه)دیوان پنجم و ششم جلدچهارم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جون ۲۰۰۲ ء ،مخ ۳
27. ډاکټر نثار احمد فاروقي، میر کي آپ بیتي (ترجمه) ذکر میر ،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ اول،جون ۱۹۹۲ء،مخ ۲۰۶
28. سیدرسول رسا، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،خېبربازار ، س ن ، مخ ، ۲۲
29. کلب علي خان فائق، کلیات میر، (مرتبه)دیوان پنجم و ششم جلدچهارم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جون ۲۰۰۲ ء ، مخ ۱۰۲
30. سیدرسول رسا، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،خېبربازار ، س ن ، مخ ، ۱۸۳
31. هم دغه اثر، مخ ، ۱۸۴
32. کلب علي خان فائق، کلیات میر، (مرتبه) جلدسوم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ

دوم،جون ۱۹۹۲ء مخ ، ۱۶۹

33. رسا سید رسول، ادبي تنقید ، منظور عالم پرېس ،پېښور،س،ن مخ ۴۲، ۴۷.

34. سیدرسول رسا ، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،خیبربازار ، س ن ، مخ ،۲۰۴

35. هم دغه اثر، مخ ۷۵

36. کلب علي خان فائق، کلیات میر، (مرتبه)دیوان دوم جلددوم،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ دوم،جنوري ۱۹۹۱ء ، مخ ،۳۸۷

37. سیدرسول رسا ، دَ عبدالرحمان بابا دیوان، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي،خیبربازار ، س ن ، مخ ، ۱۴۱

38. ډاکټر نثار احمد فاروقي، *میر کی آپ بیتی* (ترجمه) ذکر میر ،مجلس ترقي ادب لاهور،چاپ اول،جون ۱۹۹۲ء ،مخ ۴۳۵